# د بښنې نړيواله ټولنه
# خبري ناسته

**د ۲۰۱۷ زېږديز کال د اکتوبر مياشتې تر ۵ مې نېټې د ګرينويچ په وخت تر ۰۰:۰۱ بجو پورې بند شوی**

## اروپايي هېوادونو شاوخوا ۱۰۰۰۰ افغانان بېرته د مرګ او ځورونو د خطر لوري ته راستانه کوي

- په افغانستان کې د خطر له زياتوالي سره سم له اروپا څخه د کډوالو بېرته راستنول هم زيات شوي دي.
- د اروپايي هېوادونو دا خبره ناسمه ده چې د افغانستان په ځينو برخو کې امن شته
- ۲۰۱۶ زېږديز کال د ملکي خلکو لپاره تر ټولو مرګونی کال و، او ۲۰۱۷ کال هم په ورته ډول دی

د بښنې نړيوالې ټولنې نن په خپل نوي راپور کې ويلي چې اروپايي هېوادونو زرګونه افغان کډوال بېرته په زوره خپل هېواد ته ستانه کړي دي، او دغه کډوال په خپل هېواد کې د ځورونو، سرې تښتونو، مرګ او نورو بشري سرغړونو له جدي خطرونو سره مخ دي.
په دغه نوي راپور کې راغلي، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ملکي تلفاتو کچه تر بل هر وخت لوړه شوې ده، اروپايي هېوادونه زيات شمېر پناه غوښتونکي بېرته په زوره د هغو خطرونو خوا ته ستنوي چې دوی ترې تښتېدلي وو، او په دې ډول له نړيوال قانون څخه ښکاره سرغړونه کوي.
په دغه نوي راپور کې (*په زوره د خطر خوا ته ستنول: پناه غوښتونکي بېرته له اروپا څخه افغانستان ته راستانه شوي دي*) د هغو افغانانو په اړه زړه بوږنوونکې کيسې راغلي، چې له ناروې، هالنډ، سوېډن او جرمني هېوادونو څخه بېرته را ستانه شوي دي او په پايله کې دوی يا وژل شوي، يا په بمي بريدونو کې ټپيان شوي او يا هم د جنسي ګرنو او عيسويت ته د اوښتلو په پلمه د وژل کېدو له وېرې سره ژوند کوي.

د بښنې نړېوالې ټولنې د پناغوښتونکو او کډوالو حقونو د برخې څېړونکې اناشې وايي: «اروپايي هېوادونه د بېرته ستنولو په شمېر کې د زياتوالي په موخه يوه بې باکه او ناقانونه کړنلاره پلې کوي. دوی په دې حقيقت سترګې پټوي چې په افغانستان کې د تاوتريخوالي کچه لوړه ده او د دغه هېواد په هېڅ برخه کې هم امن نشته، دوی خلک د ځورونو، سرې تښتونو، مرګونو او نورو وحشتونو له خطر سره مخ کوي».
د راپور په وينا، په زوره د راستنول شويو افغانانو په ډله کې داسې بېوزله ماشومان او نوي ځوانان شته چې اروپا ته د رسېدلو په وخت کې ماشومان وو. ډېری هغه خلک چې د بښنې نړېوالې ټولنې د دغه راپور لپاره مرکې ورسره کړې دي، په هېواد کې د خطرناک حالت او د ځورونو په څېر جرمونو د نه مجازات له شتون سره بيا هم د افغانستان داسې برخو ته لېږل شوي چې دوی مخکې هېڅ نه وې لېدلي.
د بښنې نړېوالې ټولنې د افغانستان د برخې څېړونکې حوريا مصدق وويل: «دغه راستنول په ښکاره ډول د نړيوال قانون تر پښو لاندې کول دي او بايد ژر ودرول شي. هماغه اروپايي هېوادونه چې يو وخت يې د افغانانو د ښې راتلونکې لپاره مرستې کولې، اوس د دوی هيلې له خاورو سره خاورې کوي او بېرته يې هغه هېواد ته راليږي چې د دوی د کډوال کېدو تر وخت لا زيات خطرناک شوی دی».
**په زوره راستنول او ملکي تلفات زيات شوي دي**
له اروپا څخه په زوره د راستنول شويو کډوالو شمېر په داسې وخت کې زياتوالی مومي چې د ملګرو ملتونو د اسنادو له مخې په افغانستان کې د ملکي تلفاتو کچه تر بل هر وخت لوړه شوې ده.

د اروپايي ټولنې د رسمي شمېرو له مخې، د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو ترمنځ د هغو افغان کډوالو شمېر ډېر ډېر نږدې درې برابره شوې ده چې د اروپايي هېوادونو له خوا په زوره بېرته خپل هېواد ته ستنول شوي دي، دغه شمېره له ۳۲۹۰ کسانو څخه ۹۴۶۰ کسانو ته لوړه شوې ده. د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر میاشت کې د پناه غوښتنې ۶۸ سلنه غوښتنلیکونه منل کېدل خو د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر تر میاشت پورې دغه سلنه ۳۳ ته راښکته شوه، چې ورسره د په زوره ستنول شويو کډوالو شمېر په مستقیم ډول زيات شوی دی.
په ورته وخت کې د یوناما د شمېرو له مخې، په افغانستان کې د ملکي تلفاتو شمېر لوړ شوی دی.
د یوناما په وینا، په ۲۰۱۶ کال کې ۱۱۴۱۸ کسان وژل شوي یا ټپیان شوي وو. د هېواد په هره برخه کې په ملکي کسانو حملې کېږي چې ډېری يې د وسله والو ډلو لکه طالبانو او داعش له خوا ترسره شوې دي. یوناما یواځې د ۲۰۱۷ کال په لومړنیو ۶ میاشتو کې ۵۲۴۳ ملکي تلفات ثبت کړي دي.
د مې په ۳۱ مه نېټه د کابل په تاريخ کې یوه تر ټولو لویه چاودنه د ګڼو اروپایي سفارتونو سره نږدې وشوه چې له ۱۵۰ زيات کسان پکې ووژل شول او دوه برابره نور پکې ټپیان شول.

***دوی یا وژل شوي، یا ټپیان شوي او یا هم د ځورونو له وېرې سره ژوند کوي***

د بښنې د نړیوالې ټولنې څېړونکو له ګڼو هغو کورنیو سره مرکې کړې دي چې په زوره له اروپايي هېوادونو څخه له راستنول کېدو وروسته يې د خپل ژوند کړاوونه بیان کړي دی، دوی خپل دوستان له لاسه ورکړي دي، په ملکي کسانو د حملو په منځ کې ژوند کوي او په داسې یو هېواد کې د ځورونو له ویرې سره ژوند کوي چې دوی ورسره بلد نه دي.
**صدیقه** (چې دا يې اصلي نوم نه دی) او د هغې کورنی په ۲۰۱۵ کال کې هغه وخت له افغانستان څخه وتښتېدل چې د هادي په نامه خاوند يې له تښتوني او وهلو وروسته د پیسو په بدل کې راخوشې شو.
دوی له یوه میاشتني خطرناک سفر وروسته ناروې ته د یوې ښې راتلونکې په هیله ورسېدل. د ناروې هېواد چارواکو د دوی د پناه غوښتنې غوښتنلیک رد کړ او دوی ته يې اختيار ورکړ چې یا خو په بندیخانه کې تر هغو پاتې شي ترڅو چې بېرته افغانستان ته نه وي لېږل شوي او یا ۱۰۷۰۰ یورو واخلي او په خپله خوښه بېرته افغانستان ته لاړ شي.
افغانستان ته له راستنېدو څو میاشتې وروسته د صدیقې خاوند ورک شو. ورځې تېرې شوې خو د هغه د ځای په اړه معلومات پیدا نشول. هادي وژل شوی و. صدیقه باور لري چې نوموړی هماغو مخکینیو تښتوونکو وژلی دی او اوس دوی له وېرې د خپل خاوند قبر ته هم نشي تللای.
**د فرهادي کورنی** هم د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې په زوره له ناروې څخه را ایستل شوې ده. له هغه یوه میاشت وروسته دوی په کابل کې له باقر العلوم مسجد سره نږدې وو چې چاودنه وشوه او لږ تر لږه ۲۷ تنه پکې ووژل شول. د دغې حملې پړه د داعش په نوم وسله والې ډلې په غاړه اخیستې وه.
د چاودنې شدت دومره زیات و چې دوه کلن سبحان فرهادي د خپلې مور له غېږې ولوید او زخمي شو. کله چې دوی کورته لاړل د سبحان له غوږونو وینې بهېدلې. هغه له چاودنې وروسته تر څو میاشتو پورې له یو غوږ څخه نالښت کاوه.
**فرید** (چې دا يې اصلي نوم نه دی) له خپلې کورنی سره هغه وخت له افغانستان څخه وتښتېد؛ کله چې نوموړی ماشوم و. دوی لومړی ایران ته لاړل او وروسته بیا فرید یوازې ناروې ته لاړ چې هلته عیسویت ته واوښت. نوموړی د ۲۰۱۷ کال په مې میاشت کې بېرته په زوره کابل ته راولېږل شو، چېرته چې د تاوتریخوالي کچه ډېره لوړه ده او په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان په سطحه د ټولو ملکي تلفاتو یوازې ۱۹ سلنه يې په کابل کې رامنځته شوي دي.
هغه وخت له افغانستان څخه هېڅ شی هم د فرید په یاد نه و پاتې. اوس فرید په وېره کې ژوند کوي ځکه په افغانستان کې د طالبانو په ګډون وسله والې ډلې هغه خلک هدف ټاکي چې له اسلام پرته کوم بل دین ته اوښتي وي. ده د بښنې نړیوالې ټولنې ته وویل، «زه ډارېږم». «زه د افغانستان په اړه معلومات نه لرم. نه پوهېږم چېرته لاړ شم؟ زه د یوازې اوسېدلو مالي توان نه لرم او نه شم کولای له خپلوانو سره ژوند وکړم ځکه دوی به را باندې پوه شي چې زه لمونځ نه کوم».

**ازاد** (دا يې اصلي نوم نه دی) چې په ایران کې لوی شوی دی، له خپل ورور سره یو ځای هالنډ ته تښتېدلی و. نوموړی د ۲۰۱۷ کال د مې په میاشت کې افغانستان ته راستون شو، نوموړی وايي چې همجنس باز (بچه باز) دی او ډارېږي چې دغه جنسي میلان به يې خلکو ته څرګند شي او ده ته به ضرر ورسوي. هغه له بېرته ستنول کېدو ډېر ډار شوی وو او له راستنېدو مخکې يې د ځان وژنې هڅه هم کړې وه. ده د بښنې نړېوالې ټولنې ته وويل «زه هڅه کوم دلته د سړي په څېر ژوند وکړم، زه خپل اعصاب له لاسه ورکوم، زه د شپې له خوا ډېر ډارېږم – زه په ریښتیا هم ډارېږم».

**«د زهرو یوه پیاله»**

اروپايي هېوادونه چې په افغانستان کې د خطرناک حالت په اړه ښه پوهېږي بیا هم د اروپايي ټولنې هغه لاسلیک شوی هوکړه لیک «د مخ ته تګ ګډه لار» پلی کوي چې موخه يې د افغان پناه غوښتونکو بېرته ستنول دي.

اروپايي ادارو په هغه سند کې چې بېرون ته راوتلی (لیک شوی) د افغانستان «مخ په خرابېدو امنیتي حالت او د خلکو په وړاندې شته ننګونې» او همدارنګه «د تروریستي بریدونو او ملکي تلفاتو کچې» یادې کړې دي. خو بیا هم دوی ټینګار کړی دی چې «تر ۸۰۰۰۰ زیات کسان باید په نږدې راتلونکې کې بېرته خپل هېواد ته ولېږل شي».

ښکاره دلایل شته چې دغه «اړتیا» په افغان حکومت باندې د فشار راوړلو په ډول بیان شوې ده. د افغانستان د مالیې وزیر، اکلیل حکیمي ملي شورا ته وویل: «که افغانستان د کډوالو په اړوندو موضوع ګانو کې له اروپايي هېوادونو سره همکاري ونکړي، نو دغه کار به له افغانستان سره د مرستو په کچه منفي اغېز وکړي».

همدارنګه يو چا چې د نوم له ښوولو يې ډډه وکړه او د دغه هوکړه لیک په اړه يې معلومات درلود، د بښنې نړېوالې ټولنې ته وویل، چې «د افغانستان حکومت د مرستې تر لاسه کولو په بدل کې دغه د زهرو پیاله وڅښله».